### وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

### د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**15قوس _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

د خوګیاڼو ولسوالی له علماو، مخورو او قومي مشرانو سره ناسته ترسره شوه ------------------------------------ 1

سرپرست وزارت امور مهاجرین از مرز تورخم و کمپ موقت در آن ساحه دیدن کرد---------------------------------- 2

په بیړنیو مرستو ستونزه نه حل کیږي، راستنېدونکو مهاجرینو ته باید اساسي خدمات وړاندې شي-------------------- 3

خلیل الرحمن حقانی: نظام اسلامی و امنیت موجود در کشور، نتیجه قربانی های بزرگ ملت است --------------------- 5

اتحادیه اروپا: تصمیم پاکستان مبنی بر اخراج اجباری مهاجرین افغان «ظلم آشکار» است --------------------------- 5

بیش از  هزار مهاجر ازپاکستان به وطن برگشت نمود ------------------------------------------------------------ 7

د ایران څخه له دوه زرو زیات  افغان  مهاجر په یوه ورځ کې په خپله خوښه او جبري توګه  هېواد ته راستانه شوي-- 7

صد ها خانواده در ولایت میدان وردک کمک  شد ---------------------------------------------------------------- 7

بلخ ولایت کې دکمال نبي زاده بنسټ د راستنېدونکو وضعیت ته د رسېدنې په موخه د شل زره ډالرو مرسته وکړه ----- 8

برای 100 خانواده در ولایت سمنگان بز شیری توزیع شد-------------------------------------------------------- 8

خوست کې زرګونه کورنیو د خوراکي توکو مرستې تر لاسه کړې-------------------------------------------------- 9

د کډوالۍ مخنیوی: بریټانیا له روندا سره نوی تړون لاسلیک کړ------------------------------------------------- 10

بریټانیا د قانوني کډوالۍ شرایط نور هم سخت کړي ------------------------------------------------------------ 11

آلمان کنترول های مرزی را تا ۱۵ ماه دسمبر تمدید کرد ----------------------------------------------------- 12

جسد یک فرد احتمالاً مهاجر در سواحل شمال فرانسه پیدا شد ------------------------------------------------ 13

13

ایتالیا: د لمپدوسا په ساحل کې د یوې کډوالې مړی موندل شوی ------------------------------------------------ 14

# متن کامل اخبار

## د خوګیانو ولسوالۍ له علماو، مخورو او قومي مشرانو سره ناسته ترسره شوه

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزير الحاج خليل الرحمن حقاني ننګرهار ولايت ته د خپل سفر پرمهال د خوګيانو ولسوالۍ له علماو، مخورو او قومي مشرانو سره په داسې حال کې وليدل، چې ددغه ولايت مرستيال مولوي محمد سعيد بنوري، د عامې روغتيا رئيس مولوي امين الله او د مهاجرينو چارو رئيس حاجي بازمحمد يې هم ملتيا کوله**
**د مهاجرينو چارو وزير په خپلو خبرو کې وويل: د خوګيانو قومونو د هر اشغال په مقابل کې بېسارې قربانۍ ورکړي او اوسنۍ امنيت او اسلامي نظام ددغه سترو قربانيو ثمره ده**
**نوموړي د قومونو په يووالي او اتفاق ټينګار وکړ او له ولسونو يې وغوښتل، چې راستنېدونکو مهاجرينو سره په هره برخه کې چې وسه يې ولري مرسته وکړي او د هغوی لاسنيوی وکړي**
**قومي مشرانو خوګيانو ولسوالۍ ته په ورتګ له ښاغلي حقاني خوښي څرګنده کړه او خپلې ستونزې او مشکلات يې ورسره شريک کړل**
**د مهاجرينو چارو وزير ډاډ ورکړ، چې ستونزې به يې له اړوندو ارګانونو سره شريکې او د حل لپاره به يې هلې ځلې وکړي**



## سرپرست وزارت امور مهاجرین از مرز تورخم و کمپ موقت در آن ساحه دیدن کرد

ویب سایت وزارت



**الحاج خلیل الرحمن حقانی از جریان برگشت عودت کننده های اجباری و کمپ عُمری در آن ساحه دیدن کرد.**
**محترم حقانی، با شماری از عودت کننده ها صحبت نمود و ضمن استماع مشکلات و خواستهای مطرح شده از طرف آنها، درمورد به ایشان وعده همکاری داد و با شماری از ایشان مساعدت نقدی کرد.**
**وی همچنان از جریان کار در کمیته های تثبیت، اسکان موقت، صحت و خدمات دیدن نمود وجهت بهبود بیشتر امور به مسوولین کمیته های یاد شده هدایت لازم داد.**

## په بیرنیو مرستو ستونزه نه حل کیږي، راستنېدونکو مهاجرینو ته باید اساسي خدمات وړاندي شي

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر د تورخم فرضي کربښې او د مهاجرینو د میشت غالي د لیدلو پرمهال د اروپایي اتحادیې له شارژدافیرې رافیلا یودیچه او د یوشمېر موسساتو له استازو سره په ناسته کې وویل: د مهاجرینو خدمت زمونږ انساني، اسلامي او افغاني مسؤلیت دی، ښایي د ژمي په رارسېدو سره د مهاجرینو ستونزې نورې هم زیاتې شي، د بیرنیو مرستو پرځای باید دوی ته د کور جوړولو او کاري فرصتونو برخه کې په معیاري او اساسي خدماتو تمرکز وشي

ښاغلي حقاني وویل: دا چې ژمی دی او ځینو ولایتونو ته د کډوالو انتقال ناممکن دی، مونږ غواړو دا لنډمهاله میشت غالي په اوږد مهاله کمپونو بدل کړو او دا پروسه د بشرپاله هېوادونو مرستې ته اړتیا لري

نوموړي زیاته کړه، د رسمي دروازو ترڅنګ باید هغه غیر رسمي لارو ته هم پاملرنه وشي، چې ډېری مهاجرین پرې هېواد ته راستنېږي

د اروپایي اتحادیې شارژدافیرې د مهاجرینو لپاره د مهاجرینو وزارت د کارونو او ښه مدیریت ستاینه وکړه او زیاته یې کړه، د پاکستان وروستی پرېکړه د مهاجرینو په حق کې ښکاره او لوی ظلم و، مونږ به په افغانستان کې د راستنېدونکو مهاجرینو ملاتړ ته دوام ورکړو

نوموړې وویل: ما دلته حالات له نږدې وڅارل او زه به د مهاجرینو غږ تر نړیوالو ورسوم، ترڅو ددوی لپاره لا ډېرې مرستې جلب کړم

د کډوالو لپاره د ملګروملتونو عالي کمشنرۍ معاون وویل، ما په ډېرو هېوادونو کې د مهاجرینو بحران لیدلی و، خو اسلامي امارت چې دغه بحران څنګه مدیریت کړ، واقعا د ستاینې وړ و

## خلیل الرحمن حقانی: نظام اسلامی و امنیت موجود در کشور، نتیجه قربانی های بزرگ ملت است

آژانس اطلاعاتی باختر



**نکات فوق را سرپرست وزارت امور مهاجرین در اجتماع مردم ولسوالی خوگیانی ننگر هار بیان داشت.**
**عبدالمطلب حقانی سخنگوی وزارت امور مهاجرین به آژانس باختر گفت: سرپرست وزارت امور مهاجرین در حالیکه مولوی محمد سعید بنوری معاون والی ننگرهار، مولوی امین الله رییس صحت عامه و حاجی باز محمد رییس امور مهاجرین آنولایت با وی همراه بود، در اجتماع علما، متنفذین قومی و موسفیدان ولسوالی خوگیانی شرکت نمود.**
**سرپرست وزارت امو مهاجرین گفت: مردم این ولسوالی در مقابل هر متجاوز و اشغال گر قربانی بی مثال داده اند و امنیت فعلی و نظام اسلامی، نتیجه قربانی های بزرگ ملت است.**
**وی ضمن تاکید بر اتحاد و اتفاق اقوام، از مردم تقاضا نمود که در حدود امکانات خویش با عودت کننده های اجباری کمک نمایند.**
**بزرگان اقوام خوگیانی، با اظهار امتنان از سفر سرپرست وزارت امورمهاجرین به آنولسوالی، مشکلات شانرا مطرح کردند و اقای حقانی وعده کرد که مشکلات تان را با مسوولین مراجع مربوط در میان گذاشته و در جهت رفع آن تلاش می نماید.**

## اتحادیه اروپا: تصمیم پاکستان مبنی بر اخراج اجباری مهاجرین افغان «ظلم آشکار» است

آریانانیوز



دفتر اتحادیه اروپا در کابل تصمیم پاکستان مبنی بر اخراج اجباری مهاجرین افغان را ظلم آشکار خوانده است.

شارژدافیر اتحادیه اروپا در دیدار با خلیل‌الرحمان حقانی، سرپرست وزارت مهاجرین و عودت کنندگان در تورخم گفته است که فیصله اخیر حکومت پاکستان در قبال مهاجرین، «ظلم بزرگ و آشکار» است و آنان به حمایت خود از عودت کنندگان ادامه می‌دهند.

رافایلا یودیچه گفته است: «من وضعیت مهاجرین اخراج شده را از نزدیک نظارت و بررسی کردم و صدای آنها را به جهانیان می‌رسانم تا مساعدت بیشتر برای آنها جلب کنیم. فیصله اخیر حکومت پاکستان در قبال مهاجرین، ظلم بزرگ و آشکار بود و ما به حمایت خود از عودت کنندگان ادامه می‌دهیم.»

از سویی هم، خلیل‌الرحمان حقانی در این نشست گفته است که در فصل سرما مشکلات مهاجرین بیشتر می‌شود و باید در قسمت اعمار سرپناه و کمپ‌های دایمی کمک‌های اساسی صورت گیرد.

آقای حقانی افزوده است که آنان نیاز به کمک‌های بشری بیشتر دارند زیرا انتقال عودت کنندگان به شماری از ولایات ناممکن است و نیاز است توجه بیشتر در کنار دروازه‌های سرحدی رسمی، به مسیرهای غیر رسمی که مهاجرین از آن طریق بر می‌گردند، اتخاذ گردد.

در همین حال، برخی از مهاجرین برگشت کننده گفته اند که در حال حاضر پاکستان افغان‌ها را با شکنجه و بازداشت مجبور به برگشت می‌نماید.

آگاهان هم اخراج اجباری مهاجرین افغان از پاکستان را یک عمل ضد بشری می‌دانند و بر توقف آن تاکید دارند.

**این در حالی است که آصف درانی، نماینده خاص پاکستان در امور افغانستان با معاون وزارت خارجه امریکا و سفیر ایالات متحده در پاکستان در مورد مهاجرین افغان نیز دیدار و گفتگو کرده است.**

## بیش از  هزار مهاجر ازپاکستان به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**یک هزار و 374 تن مهاجر افغان از مرز های تورخم و سپین بولدک به تاریخ 13 قوس به کشور برگشت نموده اند.**

**به اساس گزارش آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار، 167خانواده که شامل962 تن از مرز یاد شده طور جبری به و طن عودت نمودند.**

**منبع افزود، خانواده های یاد شده پس از ثبت در آمریت سرحدی سپین بولدک جهت کمک به دفاتر کمیشنری ملل متحد در امور پناهنده گان، سازمان جهانی خوراک و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

**طبق یک خبر دیگر، به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار 83 خانواده که شامل 412 تن بودند، طور جبری از آن طریق به کشور برگشت نمودند.**

**به گفته آمر سرحدی تورخم، عودت کننده ها پس ازثبت در کمیته های موظف، جهت کمک بیشتر به دفاتر کمیشنری ملل متحد در امور پناهنده گان و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

## د ایران څخه له دوه زرو زیات  افغان  مهاجر په یوه ورځ کې په خپله خوښه او جبري توګه  هېواد ته راستانه شوي

د وزارت ویب سایت

**د ایران څخه  دوه زره او۱۲۳ تنه افغان مهاجر دلیندۍ  په۱۳ مه دهرات د اسلام قلعې له لاري هېواد ته راستانه شوي.**
**د اسلام قلعې  د سرحدي آمر په خبره په یادو راستنېدونکو کې کورنۍ او مجردان شامل وو چې له ډلې یې ۴۲۴ تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړۍ وال سازمان  ته ور وپېژندل شول، چې ورسره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې تر سره شوې.**
**همدارنګه ۱۵ کورنیو ته ۱۰ زره افغانۍ او ۵۸ کورنیو ته چې ۱۲۸ تنه کېدل  په وړیا توګه یو یو سیم کارټ  په سرحد کې د مؤظفو کمېټو له لوري وېشل شوي دي.**
**همدارنګه ۱۱۴ تنه نور راستنېدونکي له روغتیایي چوپړتیاوو هم برخمن شوي دي.**

## صد ها خانواده در ولایت میدان وردک کمک  شد

ویب سایت وزارت

**برای 504 خانواده عودت کننده و متضرراز حوادث طبیعی در ولایت میدان وردک مساعدت نقدی و البسه زمستانی بتاریخ 13 قوس توزیع شد.**

**کمک یادشده مبلغ 14 هزار و 800 افغانی ، سه تخته کمپل و یک بسته پوشاک زمستانی شامل 18 قلم از جانب سازمان بین المللی مهاجرت بود که هرخانواده آن را پس از شناسایی توسط اداره امور مهاجرین آن ولایت دریافت نمودند.**

## بلخ ولایت کې دکمال نبي زاده بنسټ د راستنېدونکو وضعیت ته د رسېدنې په موخه د شل زره ډالرو مرسته وکړه

د وزارت ویب سایت




**د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د اجباري راستنېدونکو وضعیت ته د رسېدنې په موخه دلیندۍ په ۱۳ مه د کمال نبي زاده خیریه بنسټ له لوري د ۲۰ زره ډالرو او ۲۱ کمپلو د مرستو خبر ورکړ.**

**ددې ولایت د مهاجرینو چارو د رئیس په خبره چې یادې روپۍ ددې بنسټ د مسؤل له لوري د بلخ ولایت دبېړنیوحا لاتو د کمېټې مسؤلینو ته وسپارل شوې.**

**د بلخ ولایت د بېړنیو حالاتو د کمېټې مسؤلینو له یاد شرکت نه مننه وکړه او ویې ویل چې دغه ټولې پیسې به په مساوي او شفاف ډول اجباري راستنېدونکو ته ووېشل شي.**

**د یو بل خبر له مخې د بلخ ولایت په لسمه او یوولسمه ناحیه کې ۷ اجباري راستنېدونکو کورنیو ته د اکټید مؤسسې په مالي مرسته ۲۰ زره او ۹۸۴ افغانۍ ووېشل شوې.**

## برای 100 خانواده در ولایت سمنگان بز شیری توزیع شد

ویب سایت وزارت



**برای 100خانواده مستحق و بی بضاعت در ولایت سمنگان بز های شیری به تاریخ 13 قوس توزیع شد.**

**به گفته آمر امور مهاجرین ولایت سمنگان، فامیل ها متذکره پنج ماه قبل با هماهنگی آن آمریت مطابق معیار، سروی و شناسایی شده بودند.**

**برای هر خانواده 3 راس بز شیری با مواد خوراکه آن از طرف موسسه راه های مبتنی بر جامعه توزیع گردید.**

## خوست کې زرگونه کورنیو د خوراکي توکو مرستې تر لاسه کړې

د وزارت ویب سایت



**د خوست ولایت دمهاجرینو ریاست د لیندۍ په ۱۴ مه په دې ولایت کې ۸ زره او ۲۷ وزیرستاني بې ځایه شوو کورنیو ته د خوراکي توکو د وېش خبر ورکړ.**
**یادې کورنۍ له وړاندې د مهاجرینو چارو د ادارې له لوري په مرکز، ګیلان کمپ او تڼیو ولسوالۍ کې سروې او دمرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې یادو کورنیوته د ۴ قلمه خوراکي توکي د وېش لړۍ د خوړو د نړۍ وال سازمان له لوري ددې ولایت د مهاجرینو د ادارې تر څار لاندې د لیندۍ په ۶ مه شروع او د لیندۍ په ۱۳ پای ته ورسېده.**

## د کډوالۍ مخنیوی: برېتانیا له روندا سره نوی تړون لاسلیک کړ

مهاجرنیوز

**د برېتانیا د سترې محکمې له پرېکړې درې اونۍ وروسته، لندن او کیګالي نن سه شنبه د غیر قانوني مهاجرت د مخنیوي په موخه نوی تړون لاسلیک کړ. دغه متن باید د دواړو هېوادونو د پارلمانونو له خوا تصویب شي.**

**وروسته له هغه چې د برېتانیا سترې محکمې روندا ته د کډوالو استول غیرقانوني وبلل، د برېتانیا حکومت د غیرقانوني مهاجرت د مخنیوي په موخه له روندا سره نوی تړون لاسلیک کړ. دغه تړون د سه شنبې په ورځ د ډېسمبر په ۵مه د برېتانیا د کورنیو چارو وزیر جېمز کلېورلي او د روندا د بهرنیو چارو وزیر ونسان بیروتا له خوا پلازمېنه کیګالي کې لاسلیک شو.**

د روندا د بهرنیو چارو وزیر یوې خبري غونډې ته وویل: «موږ له بریتانیا سره څکه همکارۍ ته ادامه ورکړه چې فکر کوو د ناقانونه کډوالی په کړکېچ کې رول لوبولی شو«.

همدارنګه د تړون تر لاسلیک مخکې جېمز کلېورلي ویلي وو، روندا د کډوالو لپاره خوندي ده او دوی «د کېنتیو د مخنیوي او د خلکو د ژوند د ژغورلو» په موخه له دغه افریقایي هېواد سره ګډ کار کوي .

ټاکل شوې چې د دې تړون متن د بریټانیا او روندا پارلمانونو له خوا تصویب شي.

نږدې ۳۰ زره کډوال بریټانیا ته رسېدلي

لږ مخکې د بریټانیا د کورنیو چارو وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي وو، دغه نوی تړون د سترې محکمې اندېښنو ته پام کوي او اجازه نه ورکوي چې کډوال له روندا سره نورو هېوادونو ته واستول شي.

د بریټانیا د سترې محکمې پنځو قاضیانو د نومبر په ۱۵مه د رایو په اتفاق سره د دغه هېواد د استیناف محکمې نظر تایید کړ. د استیناف محکمې د ۲۰۲۳ د جون د میاشتې په ۲۹ له بریټانیا څخه روندا ته د کډوالو استول غیرقانوني بللي وو.

د سترې محکمې مشر قاضي رابرټ رید ویلي وو، دا پرېکړه د حقوقي دلایلو پر اساس شوې او کومه سیاسي بڼه نه لري.

بیا ولولئ :<u>بریټانیا د قانوني کډوالۍ شرایط نور هم سخت کړي</u>

د افغانانو په ګډون ګڼ شمېر کډوال هڅه کوي چې د انګلیس کانال له لارې ځانونه بریټانیا ته ورسوي. د رسمي شمېرو له مخې، د روان کال له پیل راهیسې تر ۲۹ زره زیات کډوال د انګلیس کانال له لارې بریټانیا ته اوښتي دي چې دا د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۳۵ سلنه (۴۴ زره) کموالی ښیي .

## بریټانیا د قانوني کډوالۍ شرایط نور هم سخت کړي

مهاجرنیوز

بریټانیا کې د پارلماني ټاکنو په را نږدې کېدو سره د ریشي سونک محافظه کار حکومت د دوشنبې په ورځ د قانوني کډوالۍ د کمولو لپاره نوي اقدامات اعلان کړل .

د بریټانیا د کورنیو چارو وزیر جېمز کلېورلي د دوشنبې په ورځ د ډېسمبر په څلورمه د پارلمان استازو ته وویل، د نویو اقداماتو له کبله په راتلونکي کې هر کال د قانوني کډوالو په شمېر کې ۳۰۰۰۰۰ کموالی راشي.

د کورنیو چارو وزیر زیاته کړه چې د دغو اقداماتو له مخې بهرني کارګر باید د کاري ویزې د ترلاسه کولو لپاره په کال کې ۳۸۷۰۰ پونډه عاید لري چې دا د اوسني عاید په پرتله (۲۶۲۰۰ پونډه) ۴۷ سلنه زیاتوالی ښیي.

که څه هم د روغتیایي چارو کارکوونکي تر دغې قاعدې لاندې نه راځي، خو دوی نور نه شي کولی چې خپلې کورنۍ بریټانیا ته ور وغواړي او یا یې له ځان سره یوسي.

په ورته مهال روغتیایي سازمانونه دغه بدلونونه د اندېښنې وړ بللي او ویلي یې دي چې کډوالی د بریټانیا روغتیایي سیستم ژغورلی دی. د ان اچ اس پروفایدرز په نوم سازمان ویلي، دغه اقدامات د دې سبب ګرځي چې مسلکي کارګر

برېتانیا ته له تګ ډډه وکړي. دا په داسې حال کې چې د ریشي سونک حکومت د هغو کارونو لېست هم اپډېټ کړی چې د کارګرو شمېر پکې کم دی.

د کډوالی مخنیوی تاکل شوې ده چې دغه بدلونونه د ۲۰۲۴ کال له پسرلي څخه عملي شي.

د برېتانیا لومړی وزیر ریشي سونک له کډوالی سره مبارزه خپل لومړیتوب بولي .نوموړي په وار وار ویلي دي چې د کډوالی پر وړاندې خپلې مبارزې ته ادامه ورکوي او د انګلیس کانال له لارې د کډوالو د سفرونو د مخنیوي لپاره خپلې ټولې هڅې کوي.

د رسمي شمېرو له مخې، د روان کال له پیل راهیسې ۲۹ زره کډوال د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته اوښتي دي چې دا د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۳۵ سلنه (۴۴ زره) کموالی ښيي. د فرانسې د شمالي زون د امنیت او دفاع مشر لوی اګزاویې تیرود په وینا، په همدغه موده کې شاوخوا ۳۰۰ قاچاق وړونکي هم نیول شوي چې په وړوکو کښتیو کې یې کډوال برېتانیا ته لېږدول.

## آلمان کنترول های مرزی را تا ۱۵ ماه دسمبر تمدید کرد

مهاجرنیوز




نانسی فائزر، وزیر داخله آلمان کنترول های مرزی با پولند، جمهوری چک و سویس را تا ۱۵ ماه دسمبر امسال تمدید کرد. وزارت داخله آلمان این موضوع را عصر روز دوشنبه از طریقX ، سابق تویتر، اعلام کرد.

پولیس فدرال اکنون می تواند نظر به وضعیت به استقرار ماموران اش در "تمامی پسته های مرزی ثابت و سیار" به صورت انعطاف پذیر ادامه بدهد و اقدامات لازم را اعمال کند.

سخنگوی وزارت داخله کشور قبلا این کنترول ها را "اقدامات موفق و موثر" توصیف کرده بود. بر این اساس، از ماه اکتوبر تاکنون ۳۳۰۰ ورود غیرمجاز تنها در مرز آلمان و پولند شناسایی شده و از ۱۱۰۰ ورود از این نوع جلوگیری شده است .

از آنجا که رد کردن مستقیم در مرز همیشه امکان پذیر نیست، اگر کسی به صراحت بگوید که می خواهد برای پناهندگی درخواست کند، معمولاً اجازه ورود در کشور به وی داده می شود. به گفته این سخنگوی، ۳۰ قاچاقچی نیز در مرز آلمان و پولند دستگیر شدند .

کنترول ثابت در مرزهای پولند، جمهوری چک و سویس در ماه اکتوبر اعلام شد. دلیل آن افزایش قابل توجه تعداد پناهجویان در آلمان بود.

## جسد یک فرد احتمالاً مهاجر در سواحل شمال فرانسه پیدا شد

مهاجرنیوز



جسد یک مرد که احتمال داده می‌شود یک مهاجر بوده در سواحل شمال فرانسه پیدا شد. تحقیقات در مورد علت مرگ این فرد ادامه دارد. شمار زیادی از مهاجران تلاش می‌کنند با قایق از کانال مانش عبور کنند و به بریتانیا بروند.

به گزارش تلویزیون محلی فرانسه، فرمانداری پادوکاله یافتن جسد یک مرد در ساحل دن در نزدیکی کاله را تائید کرده است.

**بنابر گزارش، ماموران گشت ساحلی بعد از ظهر روز دوشنبه ۴ دسمبر، جسد یاد شده را در نزدیکی یک جوی آب در منطقه دن پیدا کردند.**

**مقامات گفته اند که متوفی احتمالاً یک مهاجر بوده که چند روز پیشتر در آب غرق شده است.**

**در ۸ اکتوبر، جسد یک نوجوان اریتریایی در نزدیکی ساحل مرلیون در پادوکاله پیدا شد و در پایان سپتمبر نیز جسد یک زن مهاجر در سواحل سانگت به دست آمد.**

**بیشتر بخوانید :فرانسه: جسد یک نوجوان در یکی از سواحل کاله پیدا شد**

**به گفته مقامات، این اجساد متعلق به مهاجرانی بوده است که تلاش داشتند با قایق از کانال مانش عبور کنند و به بریتانیا بروند.**

**مقامات فرانسوی همواره در باره خطرات مسافرت با قایق‌های کوچک در کانال مانش هشدار می‌دهند. به گفته آنان ترافیک مزدحم دریایی، امواج بلند آب و هوای ناساعد دریایی می‌تواند خطرات مرگباری برای مسافران قایق‌های کوچک در پی داشته باشد.**

**مسافرت به بریتانیا: مرگ دستکم ۲۲ مهاجر در دریا و خشکه**

**در آخرین مورد روز ۲۲ نومبر دو مهاجر در آب‌های ساحلی اکیهن پلاژ غرق شدند .قربانیان بخشی از یک گروه ۶۰ نفری مهاجران بودند که قایق شان دچار مشکل شده بود.**

**تحقیقات مهاجر نیوز نشان می‌دهد که یک مهاجر سومی نیز در این روز ناپدید شده است اما مقامات در این مورد اظهار بی اطلاعی کرده‌اند.**

**در یک حادثه مرگبار دیگر در کانال مانش، در ماه اگست ۶ مهاجر افغان در آب‌های سانگت غرق شدند.**

**بر اساس آمار داده شده از سوی گروه تحقیقی Groupe décès ، از آغاز سال ۲۰۲۳ تا کنون ۲۲ مهاجر در تلاش رفتن به بریتانیا، جان خود را در دریا و خشکه از دست داده‌اند.**

**مقام‌های فرانسوی روز دوشنبه گفتند که طی همین مدت ۲۹ هزار مهاجر توانسته‌اند خود را به بریتانیا برسانند. این رقم در مقایسه با زمان مشابه در سال گذشته ۳۵ درصد کاهش را نشان می‌دهد .**

**بیشتر بخوانید :کانال مانش: نجات بیش از ۲۰۰ تن؛ تعدادی از مهاجران کمک‌های امدادگران دریایی فرانسه را رد کردند**

## ایټالیا: د لمپدوسا په ساحل کې د يوې کډوالې مړی موندل شوی

مهاجرنیوز



د ایټالیا ساحلي ځواکونه وایي د لمپدوسا ټاپو په ساحل کې یې د یوې کډوالې مېرمنې مړی موندلی دی. دغې ښځې له شاوخوا ۱۰۰ نورو کډوالو سره یو ځای څلور ورځې په سمندر کې تېرې کړې وې .

د دغو کډوالو کښتۍ د لیبیا له صبراتا څخه حرکت کړی و. د رسنیو د راپورونو له مخې، د یادې ۲۴ کلنې مهاجرې جسد د یکشنبې په ورځ د ډېسمبر ۳مه د لمپدوسا په ساحل کې وموندل شو.

په دې کښتۍ کې شاوخوا ۱۰۰ کسان سپاره ول چې د ایټالیا ساحلي ځواکونو له خوا تر ژغورل کېدو وروسته فاوارولو بندر ته انتقال شول.

ځایي رسنیو د عیني شاهدانو له خولې ویلي کښتۍ کې سپرو ۱۰۷ کډوالو د چهارشنبې په ورځ د نومبر په ۲۹مه د لیبیا له صبراتا څخه د ایټالیا پر لور خپل سفر پیل کړ. دغو کډوالو چې د مصر، سوډان، سورېې، اریتریا او اتیوپیا اتباع دي ایټالیا ته د رسېدو لپاره قاچاق وړونکو ته له ۲ زرو څخه تر ۴ زره یورو ورکړې وې.

بیا ولولئ :<u>ایټالیا د کډوالو د شمېر د زیاتېدو له کبله بېړنی حالت اعلان وکړ</u>

سمندر کې د کډوالو مړینه

مدیترانه د مهاجرت لپاره یوه له تر ټولو خطرناکه او وژونکې لاره بلل کیږي. شاوخوا دوه اونۍ مخکې یوې ۲ کلنې ماشومې د دغه سمندرګي په اوبو کې خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۸ نور کسان لادرکه شول.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د بې سرحده ډاکترانو سازمان تېره میاشت د یو راپور په خپرولو سره د اروپا پر باندنیو پولو له کډوالو سره پر تاوتریخجن چلند نیوکه کړې او اروپايي ټولنه يې په انفعال تورنه کړې وه.

په دغه راپور کې راغلي وو چې له سمندره ژغورل شوي کسان له زیاتو روغتیایي ستونزو سره مخ دي چې د هغوی د سفر له غیر انساني شرایطو سره تړاو لري.

بیا ولولئ :<u>ملګري ملتونه: اروپا ته پر لار د مړو شمېر دوه برابره ډېر شوی</u>

سږ کال د هغو کډوالو په شمېر کې زیاتوالی راغلی دی چې د مدیترانې له لارې اروپا ته رسېدلي دي. د کډوالۍ نړیوال سازمان د رسمي شمېرو له مخې، د روان کال تر دې دمه شاوخوا ۱۴۷ زره کډوال د سمندر له لارې ځانونه ایټالیا ته رسولي دي. دغه سازمان زیاتوي چې په همدغه موده کې بیا تر ۲۲۰۰ کسان په مرکزي مدیترانه کې مړه شوي دي.